# غلاتیانو ته د پولوس رسول لیک

د کتاب پېژندنه

غلاتیه په اوسنۍ ترکیې کې یوه برخه وه. پولوس رسول دا لیک د دې سیمې مسیحیانو ته چې په هغه وخت کې د روم د امپراتورۍ د ولایتونو څخه ؤ، شاوخوا ۴۸ یا ۴۹ میلادي کلونو کې لیکلې دی. د غلاتیې مسیحیانو فکر کاوه چې انسان د مذهبي قوانینو او مراسمو په سرته رسولو سره د ګناه د سزا څخه خلاصون مومي او په سمه لار به روان شي. پولوس رسول د هغوی پام خپلې دې غلطۍ ته رااړوي او هغوی ته دا ورښایي چې د ګناه څخه خلاصون په انساني کوښښ سره ترلاسه کېدلی نه شي، بلکې خلاصون یو نعمت دی چې د خدای له خوا په وړیا توګه د مسیح په صلیب باندې انسان ته ورکړل شوی دی.

کله چې د عیسی په هکله زېری واورول شو او د غیریهودیانو له خوا ورته هرکلی وویل شو، نو هغوی ته یو سوال پیدا شو چې ایا یو رښتینی مسیحي باید د موسی د قوانینو څخه اطاعت وکړي او که نه؟ پولوس دلیل وړاندې کړ چې داسې کار ته اړتیا نشته بلکې دا یو حقیقت دی چې د یو مسیحي د ژوند شروع په عیسی باندې ایمان راوړل دي او دا یوازېنۍ لاره ده چې مونږ ټول د خدای په نظر کې نېک وګڼل شو. خو د غلاتیې کلیساګانو ته ځینې خلک راغلي وو چې د پولوس سره یې مخالفت کاوه او ویل به یې چې د خدای په نظر کې د نېک کېدلو دپاره باید د موسی قانون هم په پام کې ونیول شي.

د دې لیک د لیکلو اصلي مقصد د ایماندارانو هڅول دي چې سم ایمان ته راوګرځي او د هغو خلکو

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اصلاح کول دي چې د دې غلط تعليم له امله بې‌لارې شوي وو. د پولوس د دې ليک په ترڅ کې د
خپل خدمت څخه او دا چې هغه د عيسی مسيح رښتينی رسول دی، دفاع کوي. هغه په دې ټکي
باندې ټينګار کوي چې د هغه رسالت د خدای له خوا دی نه د انسان له خوا. پولوس دا هم وايي
چې د هغه وظيفه په ځانګړې توګه غيريهوديانو ته خدمت کول دي. وروسته بيا د دې عقيدې څخه
دفاع کوي چې انسان يوازې د ايمان په وسيله د خدای په نظر کې نيک ګڼل کيږي. هغه په وروستيو
فصلونو کې ښکاره کوي چې د يو ايماندار چلند د هغې مينې نتيجه ده چې په مسيح باندې د ايمان په
وسيله پيدا کيږي.

## د موضوعګانو لست

سلامونه: ۱:۱–۱۰
د يو رسول په توګه د پولوس واک او اختيار: ۱:۱۱ – ۲:۲۱
د خدای د فضل زيری: ۳:۱ – ۴:۳۱
د يو مسيحي ازادي او مسووليت: ۵:۱ – ۶:۱۰
وروستنی خبرې: ۶:۱۱–۱۸

## سلامونه

۱ (۱) دا ليک د پولوس رسول له خوا چې هغه نه د انسان له خوا ټاکل شوی او نه د انسان له
خوا رالیږل شوی بلکې د عيسی مسيح او پلار خدای له خوا چې عيسی يې له مړو نه راژوندی کړ،
رسول ټاکل شوی دی. (۲) ټول ايمانداران چې دلته زما سره دي د غلاتيې ټولو کليساګانو ته
سلامونه وايي. (۳) زمونږ د پلار خدای او څښتن عيسی مسيح فضل او سلامتي دې وي په تاسو
باندې. (۴) هغه عيسی چې خپل ژوند يې زمونږ د ګناهونو په خاطر قربان کړ، ترڅو د خدای يعنې
زمونږ د اسماني پلار د ارادې سره سم مونږ د دې اوسنی بدکارې زمانې څخه خلاص کړي. (۵) د

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خدای جلال دې تل ترتله وي. امین.

## یوازې یو زېری دی بل نشته

۶ زه په دې ډېر حیران یم چې تاسو دومره زر د هغه چا نه مخ اړوئ چې د مسیح په فضل یې
رابللي یئ او بل زېری منئ. ۷ حال دا چې بل زېری نشته. خو ځینې خلک شته چې غواړي
ستاسو فکرونه ګډوډ او د مسیح زېری بدل کړي. ۸ خو که مونږ یا حتی د اسمان یوه فرښته بې
له هغه زېري څخه چې مونږ تاسو ته ووراوه، کوم بل زېری واوروي، نو لعنت دې ورباندې وي.
۹ لکه څنګه چې مخکې مې درته وویل، اوس یې یوځل بیا درته وایم: هرڅوک چې بې له هغه
زېري نه چې تاسو قبول کړی دی، د کوم بل زېري وعظ درته وکړي، نو لعنت دې وي ورباندې.

۱۰ ایا زه اوس کوښښ کوم چې انسان راضي وساتم یا خدای؟ که چېرې زما مقصد د خلکو
خوشحالول وي، نو د مسیح خدمتګار به نه یم.

## د پولوس زېری د مسیح له خوا دی

۱۱ زما خویندو او ورونو! زه غواړم تاسو په دې پوه شئ چې هغه زېری چې ما تاسو ته ووراوه،
هغه د انسان له خوا جوړ شوی زېری نه دی. ۱۲ هغه ما د چا له خوا ترلاسه کړی نه دی او نه چا
راته زده کړی دی، بلکې خپله عیسی مسیح راته ښکاره کړی دی. ۱۳ تاسو به زما د تېر ژوند په
هکله چې کله ما د یهودي دین څخه پیروي کوله، اورېدلې وي چې څنګه به بې‌رحمۍ سره به مې د
خدای کلیسا ځوروله او کوښښ به مې کاوه چې هغه له منځه یوسم. ۱۴ زه په یهودیت کې د خپل
قوم د خپلو ډېرو همزولو نه مخکې وم او د خپلو نیکونو په روایتونو باندې ټینګ ولاړ وم. ۱۵ خو
د خدای رضا په دې کې وه چې زه یې د زېږېدلو نه مخکې د مور په ګېډه کې غوره کړم او د خپل

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

فضل په وسیله یې راوبللم، ۱۶ چې خپل زوی ماته راښکاره کړي، ترڅو غیریهودیانو ته د هغه په
هکله زېری ورسوم. په دې کار کې ما د هېڅ انسان سره مشوره نه ده کړې ۱۷ او نه اورشلیم ته
لاړم، ترڅو د هغو خلکو سره ووینم چې زما نه مخکې رسولان وو، بلکې عربستان ته لاړم او
وروسته بېرته دمشق ته راستون شوم.

۱۸ درې کاله وروسته اورشلیم ته لاړم، ترڅو د پطروس سره وپېژنم او پنځلس ورځې د هغه سره
پاتې شوم. ۱۹ خو ما پرته د عیسی مسیح د ورور یعقوب نه نور رسولان ونه لیدل. ۲۰ زه چې
تاسو ته څه لیکم هغه رښتیا دي. خدای پوهېږي چې زه دروغ نه وایم. ۲۱ وروسته بیا د سوریې
او قیلیقیې سیمو ته لاړم. ۲۲ په یهودیې کې د مسیح د کلیساګانو غړو زه نه پېژندلم. ۲۳ هغوی
یوازې اورېدلي وو چې خلکو به ویل: «هغه چا چې مونږ به یې ځورولو، اوس د هماغه ایمان په
هکله وعظ کوي چې یو وخت یې د هغه د له منځه وړلو کوښښ کاوه.» ۲۴ او هغوی زما په
خاطر د خدای ثنا وویله.

## رسولانو پولوس د رسول په توګه قبول کړ

۲ ۱ څوارلس کاله وروسته یوځل بیا د برناباس سره اورشلیم ته لاړم او تیتوس مې هم د ځان
سره بوته. ۲ زه د خدای د الهام له مخې هلته لاړم. هلته ما د کلیسا د هغو کسانو سره چې
مشران ګڼل کېدل یوازې ولیدل او د هغوی سره مې د هغه زېري پیغام شریک کړ چې غیریهودیانو ته
به مې ورکاوه. ما غوښتل په دې ډاډه شم چې کوم کار چې مې مخکې کړی ؤ او یا یې اوس کوم،
هغه ګټه نه لري. ۳ خو سره له دې چې زما ملګری تیتوس یوناني هم ؤ، خو هغه یې مجبوره نه
کړ چې سنت شي. ۴ که څه هم ځینې خلکو چې خپل ځانونه یې ایمانداران ښودل، په پټه زمونږ
په ډله کې راننوتلي وو چې جاسوسي وکړي، غوښتل چې دا کار وکړي او هغه ازادي چې مونږ په

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

عیسی مسیح کې لرو، هغه له منځه یوسي. هغوی غوښتل چې مونږ غلامان کړي او دې ته مو مجبور
کړي چې د هغوی د یهودیت د قوانینو پیروي وکړو. ۵ خو مونږ یوه شېبه هم هغوی ته موقعه
ورنه کړه چې د هغوی تعلیم ته غاړه کېږدو، ځکه چې مونږ غوښتل د زېري ربښتینولي د تل دپاره په
تاسو کې خوندي پاتې شي. ۶ او کوم خلک چې مشران ګڼل کېدل، زما په پیغام کې هېڅ شی
زیات نه کړل. خو زما دپاره فرق نه کوي که هغوی هر څنګه وو، ځکه چې خدای د هېچا د ظاهري
شکل په هکله قضاوت نه کوي. ۷ د دې په ځای، هغوی ولیدل چې خدای ماته دا وظیفه
سپارلې ده چې ناسنت شویو غیریهودیانو ته زېری ورسوم، لکه څنګه چې پطروس ته د سنت شویو
یهودیانو ته د زېري رسولو وظیفه سپارل شوې وه. ۸ ځکه هماغه خدای چې پطروس ته یې
قدرت ورکړ چې د یهودیانو رسول اوسي، ماته یې هم قدرت راکړ چې د غیریهودیانو رسول واوسم.
۹ کله چې یعقوب، پطروس او یوحنا چې د کلیسا مشران ګڼل کېدل، د خدای هغه فضل ولیده
چې ماته راکړل شوی ؤ، نو هغوی برناباس او ماته د ملګرتیا لاس راکړ. په دې سره جوړ راغلو چې
مونږ به په غیریهودیانو کې او هغوی به د یهودیانو په منځ کې کار کوي. ۱۰ د هغوی یوازېنۍ
غوښتنه دا وه چې باید د غریبانو په فکر کې واوسو، دا هغه څه وو چې ما په شوق سره غوښتل ویې
کړم.

## پولوس د پطروس سره مخالفت کوي

۱۱ خو کله چې پطروس انطاکیې ته راغی نو ما مخامخ د هغه مخالفت وکړ، ځکه کوم کار چې
هغه کړی ؤ، غلط ؤ. ۱۲ ځکه مخکې له دې چې ځینې کسان چې د یعقوب له خوا رالېږل شوي
وو هلته راورسیږي، پطروس د غیریهودیانو ایماندارانو سره په یو دسترخوان باندې کېناست، خو د
هغوی په رسېدلو سره هغه نور د غیریهودیانو سره خوړل څښل پرېښودل. پطروس خپل ځان له
هغوی څخه بېل کړ، ځکه هغه د هغو خلکو څخه وېرېده چې د غیریهودیانو سنتول یې غوښتل.
۱۳ نور یهودي ایمانداران هم په دې ریاکارۍ کې د پطروس سره یوځای شول، تر دې پورې چې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

برناباس هم د هغوی د رياکارۍ له امله بې‌لارې شو. ۱۴ کله چې ما وليدل د هغوی چلند او چلند
د زېري د حقيقت سره سم نه دی، نو د ټولو په مخکې مې پطروس ته وويل: «سره له دې چې ته
يهودي يې خو د غيريهوديانو په شان ژوند تېروې، نه د يهوديانو په شان، نو بيا څنګه کولای شې
چې غيريهوديان دې ته مجبور کړې چې د يهوديانو په شان ژوند وکړي؟»

## يهوديان او غيريهوديان د ايمان په وسيله خلاصون مومي

۱۵ مونږ د اصل نه يهوديان يو، خو د ګناهکارو غيريهوديانو په شان نه يو. ۱۶ خو مونږ پوهېږو
چې هېڅوک د شريعت په حکمونو باندې په عمل کولو سره نه، بلکې په عيسی مسيح باندې په
ايمان راوړلو سره نېک ګڼل کېږي. مونږ په خپله هم په عيسی مسيح باندې ايمان راوړ، ترڅو په
مسيح باندې په ايمان راوړلو سره نېک وګڼل شو، نه د شريعت په سرته رسولو سره. ځکه چې
هېڅوک نه شي کولای د شريعت په حکمونو باندې په عمل کولو سره نېک وګڼل شي. ۱۷ که
چېرې مونږ هڅه کوو چې په مسيح باندې د ايمان راوړلو په وسيله نېک وګڼل شو، خو په دې
ګناهکاران ګڼل کېږو چې شريعت مو پرېښی دی، نو ايا د دې معنی دا شوه چې مسيح زمونږ د ګناه
سبب شو؟ هېڅکله نه. ۱۸ که چېرې زه هغه شريعت بيا جوړوم چې په خپله مې خراب کړی دی،
نو زه به خپل ځان د شريعت ماتوونکی وښايم. ۱۹ ځکه کله چې ما په شريعت باندې د عمل
کولو کوښښ کاوه، زه يې محکوم کړم، نو د شريعت له مخې مړ شوم. نو ما د هغه د ټولو شرايطو
پوره کول پرېښودل، ترڅو د خدای د ارادې سره سم ژوند وکړم. ۲۰ زه د مسيح سره په صليب
شوم، نو زه نور ژوندی نه يم، بلکې مسيح په ما کې اوسېږي. اوس چې زه کوم ژوند تېروم، هغه د
خدای په زوی باندې د ايمان لرلو په وسيله دی چې زما سره يې مينه وکړه او خپل ژوند يې زما
دپاره له لاسه ورکړ. ۲۱ زه د خدای فضل بې‌ګټې نه ګڼم، ځکه که چېرې عدالت په شريعت باندې
د عمل کولو له لارې حاصلېدلای شوای، نو بيا اړتيا نه وه چې مسيح دې مړ شي.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## ایمان راوړل یا په شریعت باندې عمل کول؟

۳ ۱ ای ناپوهه غلاتیانو ایماندارانو! تاسو ته په ښکاره وویل شول چې عیسی مسیح څنګه په
صلیب ځوړند کړای شو. نو بیا په تاسو باندې چا جادو کړې ده چې دا نه منئ؟ ۲ زه یوازې
غواړم په دې پوه شم چې: ایا تاسو په شریعت باندې په عمل کولو سره روح القدس ترلاسه کړ یا
مو د زېرې په اورېدلو او په هغه باندې د ایمان راوړلو له لارې؟ ۳ بیا څنګه کېدای شي چې
دومره ناپوهه اوسئ؟ تاسو چې خپل نوی ژوند د روح القدس په وسیله پیل کړ، اوس غواړئ چې په
خپل انساني کوښښ یې کامل کړئ؟ ۴ ایا ستاسو د ژوند ټولې تجربې بې‌ګټې وې؟ په یقین سره
چې بې‌ګټې نه وې. ۵ ایا خدای چې تاسو ته روح القدس درکوي او معجزې درښایي، دا په
شریعت باندې د عمل کولو په خاطر دی که د مسیح د زېرې اورېدلو او په هغه باندې د ایمان
راوړلو له امله؟

۶ د ابراهیم په هکله فکر وکړئ: «ابراهیم په خدای ایمان راوړ او خدای هغه د خپل ایمان له
امله عادل وګاڼه.» ۷ نو بیا پوه شئ چې د ابراهیم رښتیني اولادونه هغه خلک دي چې په خدای
ایمان لري. ۸ لکه څنګه چې د خدای په کلام کې پېشګویي شوې ده چې خدای به غیریهودیان
د ایمان په وسیله نېک وګڼي. هغه ډېر پخوا ابراهیم ته دا زېری ورکړی ؤ او ویلي یې وو: «ستا په
وسیله به ټولو قومونو ته برکت ورکړل شي.» ۹ نو هغه خلک چې ایمان لري، په هغو برکتونو کې
به شریک شي چې ابراهیم ته د ایمان له امله ورکړل شوي وو.

۱۰ خو هرڅوک چې په شریعت باندې په عمل کولو تکیه کوي هغه لعنتي دی. ځکه چې د خدای
په کلام کې لیکل شوي دي: «لعنت به وي په هر هغه چا باندې چې په هغو ټولو شیانو چې په
شریعت کې لیکل شوي دي، عمل نه کوي.» ۱۱ دا ښکاره خبره ده چې هېڅوک د شریعت په
وسیله د خدای په نظر کې عادل کېدلی نه شي. ځکه چې د خدای په کلام کې لیکل شوي دي:

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

«نېکان به د ايمان په وسيله ژوند کوي.» ۱۲ خو د ايمان لاره د شريعت د لارې څخه فرق لري.
لکه څنګه چې د خدای په کلام کې ليکل شوي دي:

څوک چې په شريعت باندې عمل کوي، هغوی به د شريعت له مخې ژوند کوي.

۱۳ خو مسيح مونږ د هغه لعنت نه ازاد کړو چې د شريعت څخه راپيدا کيږي. کله چې هغه په
صليب ځوړند شو، نو زمونږ د ګناهونو لعنت يې په خپل ځان واخيست. ځکه چې د خدای په کلام
کې ليکل شوي دي: «هرڅوک چې په ونه کې ځوړند کړای شي هغه لعنتي دی.» ۱۴ مسيح دا کار
د دې دپاره وکړ چې هغه برکت چې خدای د ابراهيم سره وعده کړې وه د عيسی مسيح په وسيله
غيريهوديانو ته هم ورسيږي، ترڅو مونږ د خدای وعده شوی روح القدس د ايمان په وسيله لاسته
راوړو.

## شريعت او د خدای وعده

۱۵ ای زما خويندو او ورونو! زه تاسو ته د ورځني ژوند يو مثال راوړم: هېڅوک نه شي کولای
هغه تړون چې د دوه کسانو ترمنځ شوی وي، باطل کړي او يا کوم شی په کې ورزيات کړي. ۱۶
خو خدای چې کومه وعده د ابراهيم سره کړې وه، نو د خدای کلام دا نه وايي: «د هغه د اولادونو
سره،» يعني مقصد يې دا نه ؤ چې ډېر اولادونه، بلکې د هغه مقصد دا ؤ چې د هغه يوازېنی اولاد،
يعني د مسيح سره. ۱۷ زما مقصد دا دی: هغه شريعت چې څلور سوه او دېرش کاله وروسته
راغی، نه شي کولای هغه لوظ باطل کړي چې خدای د ابراهيم سره کړی ؤ او نه د هغه وعده ماتولی
شي. ۱۸ ځکه که چېرې ميراث د شريعت سره تړلی وي، نو هغه نور د وعدې سره تړاو نه لري.
خو خدای هغه ابراهيم ته د وعدې له مخې ورکړی دی.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۹ نو بیا د شریعت مقصد څه ؤ؟ د وعدې ترڅنګ شریعت هم ورکړل شو، ترڅو خلکو ته د
هغوی ګناهونه وروښايي. شریعت د دې دپاره جوړ شوی ؤ چې یوازې د ابراهیم د نسل تر راتللو
پورې چې وعده یې ورسره شوې وه، اعتبار ولري. خدای خپل شریعت د فرښتو په وسیله موسی ته
چې د خدای او انسانانو ترمنځ منځګړی ؤ، ورکړ. ۲۰ خو منځګړي ته هغه وخت اړتیا وي چې
په تړون کې دوه خواوې شاملې وي، خو خدای یو دی او هغه د ابراهیم سره بې له منځګړي وعده
وکړه.

## د شریعت مقصد

۲۱ ایا شریعت د خدای د وعدو په خلاف دی؟ هېڅکله نه! ځکه که چېرې شریعت کولای شوای
موږ ته نوی ژوند راکړي، نو په شریعت باندې په عمل کولو سره به د خدای په نظر کې عادل کېدلی
شوای. ۲۲ خو د خدای کلام وايي چې موږ ټول د ګناه بندیان یو، ترڅو هغه وعده چې په عیسی
مسیح باندې په ایمان راوړلو سره ترسره کیږي، ایماندارانو ته ورکړل شي. ۲۳ خو په عیسی مسیح
باندې په ایمان راوړلو نه مخکې موږ د شریعت تر قدرت لاندې وو او د شریعت په بند کې ساتل
کېدلو، تر هغې پورې چې موږ ته د عیسی مسیح د ایمان لاره ښکاره شوه. ۲۴ نو په دې ډول
شریعت د مسیح تر راتللو پورې زموږ سرپرست ؤ، ترڅو موږ د ایمان په وسیله نیک وګڼل شو.
۲۵ خو څرنګه چې د دې وخت رارسېدلی دی چې په مسیح باندې ایمان راوړو، نو موږ نور د
شریعت سرپرستی ته اړتیا نه لرو. ۲۶ ځکه چې په عیسی مسیح باندې په ایمان راوړلو سره تاسو
ټول د خدای اولادونه یئ. ۲۷ تاسو ټولو چې د عیسی مسیح په نوم د تعمید غسل واخیست، نو د
مسیح خوی او خصلت ولرئ. ۲۸ نو بیا د یهودي او غیریهودي، غلام او ازاد او د نر او ښځې
ترمنځ فرق نشته، ځکه چې تاسو ټول په عیسی مسیح کې سره یو یئ. ۲۹ که چېرې تاسو د
مسیح یئ، نو د ابراهیم اولادونه یئ او د خدای د وعدې له مخې د هغه وارثان یئ.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۴ ۱ خو زه تاسو ته وایم چې ترڅو پورې چې میراث خور صغیر وي، نو د یو غلام سره فرق
نه لري، که څه هم هغه د ټول جایداد خاوند وي. ۲ پلار یې چې کوم وخت د هغه دپاره ټاکلی
دی تر هغې پورې به د سرپرستانو او ساتونکو تر څارنې لاندې وي. ۳ په همدې ډول کله چې
مونږ هم په روحاني توګه ماشومان وو، نو د دنیاوي بدو روحاني قوتونو غلامان وو. ۴ خو کله
چې هغه ټاکل شوی وخت راورسېد، نو خدای خپل زوی راولېږه چې د یوې ښځې نه پیدا شو او د
شریعت تابع ؤ، ۵ ترڅو د هغو خلکو ازادي بېرته په بیه واخلي چې د شریعت تابع وو، په دې
ډول هغه مونږ د خپلو اولادونو په توګه قبول کړي یو. ۶ د دې دپاره چې خدای دا وښایي چې د
هغه اولادونه یو، نو د خپل زوی روح یې زمونږ زړونو ته راولېږه، هغه روح چې چیغې وهي: «ابا،
یعنې ای پلاره.» ۷ نو نور ته غلام نه یې، بلکې د هغه اولاد یې. او څرنګه چې د هغه اولاد یې،
نو خدای ته د خپل هرڅه وارث کړی هم یې.

## د غلاتیانو دپاره د پولوس اندېښنه

۸ پخوا چې تاسو خدای نه پېژانده، نو د هغو خدایانو بندګي مو کوله چې په اصل کې خدایان نه
وو. ۹ خو اوس چې تاسو خدای پېژنئ او یا باید ووایم چې خدای تاسو پېژني، نو بیا څنګه
کولای شئ چې بېرته هغو کمزورو او بې ګټې دنیاوي اصولو ته وروګرځئ؟ ولې غواړئ چې یوځل
بیا د هغو شیانو غلامان شئ؟ ۱۰ تاسو په ډېر غور ځانګړې ورځې، میاشتې، فصلونه او کلونه هم
په مذهبي توګه لمانځئ. ۱۱ زه وېرېږم چې کوم زحمتونه چې ما ستاسو دپاره ویستلي دي، هغه
بېځایه تللي وي.

۱۲ ای خویندو او ورونو! تاسو ته زارې کوم چې خپل ځانونه زما په شان د دې شیانو څخه ازاد
کړئ، ځکه چې زه هم ستاسو په شان شوی یم. تاسو مخکې زما سره هېڅ بد چلند نه دی کړی.
۱۳ تاسو ته په یاد دي کله چې ما د اول ځل دپاره زېری ووراوه، په هغه وخت کې زه ناروغ وم.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۴ سره له دې چې زما ناروغي ستاسو دپاره يو ازمېښت ؤ، خو بياهم تاسو زما څخه کرکه ونه
کړه او مخ مو راڅخه وانه ړاوه، بلکې داسې هرکلی مو راته ووېل چې ګوندې زه د خدای فرښته يا
خپله عيسی مسيح وم. ۱۵ زه دا ويلی شم چې تاسو زما سره دومره خوشحاله وئ که چېرې
کېدلی شو، نو خپلې سترګې به مو راويستلې وای او ماته به مو راکړې وای. خو اوس ستاسو هغه
خوشحالي څه شوه؟ ۱۶ خو اوس چې زه تاسو ته حقيقت وايم، نو ستاسو دښمن شوم؟ ۱۷ هغه
خلک چې ستاسو سره ملګرتيا کوي د هغوی نيتونه ښه نه دي، بلکې هغوی غواړي چې تاسو زما
څخه بېل کړي، ترڅو د هغوی طرفدار شئ او خپل پام د هغوی خواته واړوئ. ۱۸ که چېرې
څوک غواړي چې په رښتيني توګه ستاسو سره ملګرتيا وکړي، نو دا ښه خبره ده، خو دا دې هر
وخت کوي، نه يوازې هغه وخت چې زه ستاسو سره يم. ۱۹ زما ګرانو بچيانو! زه يوځل بيا
ستاسو دپاره د هماغه درد احساس کوم چې يوه مور يې د لنګون په وخت کې لري، ترڅو ستاسو
طبيعت د مسيح په شان شي. ۲۰ کاشکې زه اوس ستاسو سره وای چې په بل ډول مې درسره
خبرې کولای، ځکه چې ستاسو په هکله ډېر اندېښمن يم.

## د ساره او هاجرې مثال

۲۱ تاسو چې غواړئ د شريعت د حکمونو لاندې ژوند وکړئ، ماته ووايئ څه چې تورات وايي
ايا په هغو باندې نه پوهېږئ؟ ۲۲ ځکه چې په تورات کې ليکل شوي دي چې ابراهيم دوه زامن
درلودل، يو يې د وينځې څخه او بل يې د ازادې ښځې څخه ؤ. ۲۳ د وينځې زوی په عادي ډول
پيدا شو، خو د ازادې ښځې زوی د خدای د وعدې له مخې نړۍ ته راغی. ۲۴ دا شيان کولای شو
چې د يو مثال په توګه بيان کړو: دا دوه ښځې د خدای د دوه لوظونو ښودونکې دي. يوه يې هاجره
ده چې د سينا د غره په مثال ده او اولادونه به يې غلامان وي. ۲۵ هاجره په عربستان کې د سينا
د غره په مثال ده چې د اوسني اورشليم په شان ده، ځکه چې د خپلو اولادونو سره په غلامۍ کې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ژوند کوي. ۲۶ خو هغه بله ښځه ساره ده چې د اسماني اورشليم په مثال ده. هغه ازاده ښځه ده او
زمونږ مور ده. ۲۷ ځکه چې د خدای په کلام کې ليکل شوي دي:

خوشحالي وکړه ای شنډې ښځې!

که څه هم تا هېڅکله ماشوم نه دی زېږولی

او دردونه د لنګون دې نه دي ليدلي

چيغې ووهه د خوشحالی نه

ځکه چې شړل شوي ښځه به

راوړي زيات اولادونه

د مېړه لرونکې ښځې نه

۲۸ نو اوس ای خويندو او ورونو! تاسو د اسحاق په شان د خدای د وعدې اولادونه يئ. ۲۹ په
هغه وخت کې به هغه زوی چې په عادي ډول پيدا شوی ؤ، هغه زوی ځوراوه چې د روح القدس په
قدرت سره پيدا شوی ؤ، نن هم همداسې کيږي. ۳۰ خو د خدای کلام څه وايي؟ «وينځه او د
هغې زوی وشړه، ځکه چې د وينځې زوی به د ازادې ښځې د زوی سره په ميراث کې شريک نه
شي.» ۳۱ نو ای خويندو او ورونو! مونږ د وينځې اولادونه نه يو، بلکې د ازادې ښځې اولادونه
يو.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د مسیح په ازادۍ کښې ټینګ پاتې شئ

**۵** ۱ مسیح مونږ د ازاد اوسېدلو دپاره ازاد کړي يو. نو اوس په خپلې ازادۍ کښې ټینګ پاتې شئ
او مه پرېږدئ چې یوځل بیا د غلامۍ جغ ستاسو په غاړه کښې کېښودل شي.

۲ ماته غوږ ونیسئ! زه پولوس تاسو ته وایم، که چېرې تاسو ځان سنتول د خلاصون یوه وسیله
ګڼئ، نو مسیح چې ستاسو دپاره کوم څه کړي دي، تاسو ته يې هېڅ ګټه نشته. ۳ زه یوځل بیا په
هرچا ټینګار کوم، که چېرې څوک سنت شي، نو هغه مجبور دی چې د شریعت په ټولو حکمونو
باندې عمل وکړي. ۴ که چېرې په تاسو کښې څوک کوښښ کوي چې په شریعت باندې په عمل
کولو سره نېک وګڼل شي، نو خپله اړیکه د مسیح سره پرې کوئ او د خدای د فضل څخه لېرې
پاتې کېږئ. ۵ ځکه چې زمونږ هيله دا ده چې خدای به مونږ په خپل نظر کښې عادل وګڼي او له
دې امله مونږ د روح القدس په وسیله چې زمونږ د ایمان له لارې په مونږ کښې کار کوي، انتظار کوو.
۶ ځکه کله چې مونږ په عیسی مسیح باندې ایمان ولرو، نو سنتېدل یا نه سنتېدل کومه مهمه
خبره نه ده. کوم شی چې مهم دی هغه ایمان دی چې ځان نورو ته په مینه کښې څرګندوي.

۷ تاسو خو په روحاني توګه ښه پرمختګ کاوه، نو بیا چا ستاسو مخه ونیوله چې د حقیقت
پیروي ونه کړئ؟ ۸ دا کار د خدای له خوا چې تاسو يې رابللي يئ، نه دی. ۹ لکه څنګه
چې خلک وايي: «لږه خمیره ټول اوړه خمیره کوي.» ۱۰ زه باور لرم چې تاسو به د څښتن سره
په یووالي کښې کومه بله عقیده ونه منئ. خدای به هر هغه چاته چې تاسو يې اندېښمن کړي يئ، که
هغه هرڅوک وي، سزا ورکړي. ۱۱ ای خویندو او ورونو! د خپل ځان په هکله باید ووایم، که زه
تراوسه د سنتېدلو په هکله وعظ کوم چې دا کار ضروري دی، نو بیا ولې تراوسه ځورول کېږم؟ که
چېرې هغه رښتیا وو، نو بیا به هېڅوک د مسیح د صلیب په هکله زما په وعظ خفه شوی نه وای.
۱۲ کاشکې هغه کسان چې تاسو د دې دپاره پرېشانه کوي چې باید سنت شئ، نو هغوی دې خپل

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ځانونه خصیان کړي.

۱۳ ای خویندو او ورونو! تاسو د دې دپاره رابلل شوي یئ چې ازاد اوسئ. خو د دې ازادۍ څخه
یوازې د خپلو نفساني غوښتنو په خاطر کار مه اخلئ، بلکې په مینه د یو بل خدمت وکړئ. ۱۴
ځکه چې ټول شریعت په یو حکم کې خلاصه کیږي: «د خپل ګاونډي سره د خپل ځان په شان مینه
کوه.» ۱۵ خو که چیرې تاسو په یو بل باندې خوله لګوئ او یو بل ته زیان رسوئ، نو بیا پام
کوئ، که نه، نو یو بل به بالکل له منځه یوسئ.

## نفساني غوښتنې او د روح القدس ثمره

۱۶ نو زه دا وایم، که چیرې تاسو خپل ژوند د روح القدس د لارښوونې سره سم تیر کړئ، نو بیا
به د خپلو نفساني غوښتنو له مخې کوم کار نه کوئ. ۱۷ ځکه چې نفساني غوښتنې د روح القدس
د غوښتنو په خلاف دي او څه چې روح القدس غواړي هغه د نفساني طبیعت په خلاف دي. له دې
امله تاسو نه شئ کولی هرڅه چې مو زړه وغواړي هغه وکړئ. ۱۸ خو که چیرې تاسو د خدای
د روح القدس په لارښوونه روان یئ، نو بیا مجبوره نه یئ چې د شریعت تابع اوسئ.

۱۹ د نفساني غوښتنو کارونه ښکاره دي: جنسي بداخلاقي، ناپاکي، عیاشي، ۲۰ بت‌پرستي،
جادوګري، دښمني، جګړې، کینه، قهر او غضب، ځان خوښونه، بې‌اتفاقي، ډله بازي، ۲۱ بخیلي،
نشه، مستي او داسې نور. زه تاسو ته بیا خبرداری درکوم لکه څنګه چې مخکې مې هم درکړی ؤ،
څوک چې داسې کارونه کوي د خدای د پاچاهۍ په میراث کې به برخه ونه لري.

۲۲ خو د روح القدس ثمره دا ده: مینه، خوشحالي، ارامي، صبر، مهرباني، نیکي، وفاداري، ۲۳
نرمي او په خپل نفس باندې واک لرل. هیڅ شریعت د دې کارونو په خلاف نه دی. ۲۴ نو څوک

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې د عیسی مسیح پیروان دي، هغوی خپل انساني طبیعت د خپلو ټولو هوسونو او غوښتنو سره په
صلیب کړی دی. ۲۵ که چېرې مونږ د روح القدس په وسیله ژوند کوو، نو باید خپل ژوند د روح
القدس د لارښوونې له مخې جوړ کړو. ۲۶ نو باید غرور ونه کړو، یو بل ونه ځوروو او د یو بل
سره بخیلي ونه کړو.

## د یو بل بار اوچتوئ

۶ ۱ ای خویندو او ورونو! که چېرې څوک په کومې ګناه کې راګیر شي، نو تاسو چې روحاني
خلک یئ، هغه په نرمۍ سره سمې لارې ته راوګرځوئ. په خپلو ځانونو باندې پام کوئ، که نه، نو
تاسو به هم وسوسه شئ. ۲ یو د بل سره د بار په وړلو کې مرسته کوئ، نو په دې ډول به تاسو د
مسیح شریعت پوره کړئ. ۳ که چېرې څوک خپل ځان لوی ګڼې او په حقیقت کې هغه هېڅ هم
نه وي، نو هغه خپل ځان غولوي. ۴ هرڅوک دې خپل عمل په خپله وازمایي. که چېرې ښه وي
نو بیا کولای شي په خپل ځان ویاړ وکړي، خو خپل ځان د نورو سره مه پرتله کوئ. ۵ ځکه
چې هرڅوک باید خپل کار په خپله سرته ورسوي. ۶ څوک چې د خدای کلام زده کوي، نو په
خپلو ټولو ښو شیانو کې دې خپل ښوونکی شریکوي. ۷ ونه غولېږئ، هېڅوک نه شي کولای
چې په خدای باندې ملنډې ووهي، ځکه څوک چې څه کري هغه به ریبي. ۸ خو څوک چې د
خپلو نفساني غوښتنو په کرونده کې کوم څه وکري، نو د هغه څخه به د مرګ حاصل راټول کړي او
څوک چې د روح القدس د خوشحالولو دپاره کوم څه وکري، نو د هغه روح القدس څخه به د
تلپاتې ژوندون حاصل راټول کړي. ۹ نو مونږ باید په ښه کار کولو ستړي نه شو او د دې کارونو
څخه لاس وانخلو، نو په سم وخت به خپل حاصل راټول کړو. ۱۰ نو ترڅو پورې چې زمونږ سره
موقعه وي، باید د هرچا سره نیکي وکړو او په ځانګړې توګه د هغوی سره چې د ایماندارانو په یوه
کورنۍ کې زمونږ سره شریک دي.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۱ ګورئ، زه تاسو ته په خپل لاس په څومره غټو ټکو سره ليکم. ۱۲ کوم خلک چې تاسو په
سنتولو مجبوروي، دا هغه خلک دي چې د نورو په مخکې خپل ځانونه داسې ښايي چې دوی ښه
خلک دي. دوی نه غواړي چې د مسيح د صليب په خاطر وځورول شي. ۱۳ ځکه حتی هغه
خلک چې سنت شوي دي، هغوی په خپله په شريعت باندې عمل نه کوي، خو هغوی ستاسو
سنتېدل د دې دپاره غواړي چې ستاسو په دې کار هغوی وياړ وکړي. ۱۴ خو خدای دې نه کړي
چې زه دې زمونږ د څښتن عيسی مسيح د صليب څخه پرته په کوم بل شي باندې وياړ وکړم. ځکه
چې د هغه د صليب په وسيله نړۍ زما دپاره مړه شوه او زه د نړۍ دپاره. ۱۵ نو سنتېدل يا نه
سنتېدل کومه مهمه خبره نه ده، بلکې نوی پيدايښت مهم دی. ۱۶ سلامتي او رحم دې وي په هغه
چا چې د دې قانون سره سم ژوند تېروي او هم د خدای په ټولو حقيقي اسراييلو باندې.

۱۷ له دې نه وروسته دې هېڅوک ما نه په تکليفوي، ځکه زما په بدن چې کوم داغونه دي د هغې
نه معلومېږي چې زه د عيسی يم. ۱۸ ای خويندو او ورونو! په تاسو ټولو باندې دې زمونږ د
څښتن عيسی مسيح فضل وي. امين.

تاسو پوښتنې لرئ؟ +1 807.700.9066
افغانستان ۲۰۲۳ © afghanbibles.org
Copyrighted material not for reprint/publishing purposes.